بسم الله الرحمن الرحیم

# په اسمره کې د اریتریا او اتیوپیا تر منځ د سولې تړون




**(ژباړه)**

**پوښتنه:**

په اسمره کې د ۲۰۱۸ په جولای کې د اریتریا او اتیوپیا تر منځ د سولې تړون لاسلیک شو او میلس د اتیوپیا د بهرنیو چارو وزیر په دې ټینګار وکړ، چې د اسمرې تړون چې په دې وروستیو کې له اریتریا سره لاسلیک شو، د دوو هېوادونو په خوښه او د درېیم اړخ بې له کوم منځګړیتوب څخه تر سره شوی. پوښتنه دا ده چې دا وینا سمه ده؟ او د دې تړون په لاسلیک کولو کې نړیوالو او سیمه ییزو هېوادونو اغېزه نه درلوده؟ د اسمرې تړون، د ۲۰۱۸ د جون د ۱۸ نېټې له الجزایر تړون سره څه تړاو لري؟ ظاهرا داسې ښکارئ چې د هغې بشپړوونکې ده، ولې ۱۸ کاله وروسته پاتې شوه؟ الله سبحانه و تعالی دې خیر درکړي.

**ځواب:**

د دواړو خواوو په خوښه د دې تړون د لاسلیک کولو په هکله د اتیوپیا د بهرنیو چارو وزیر د ویاند (میلس) ویناوې د عوامو خلکو د غولولو لپاره دي! او د پېښو د لړیو په تعقیب سره دا په ډاګه کیږي چې د هغې شاته څه پېښې شوي او کیږي، امریکا د اروپا او چین د تحرکاتو پر وړاندې د خپلو ګټو او نفوذ لپاره په افریقا کې ښکېله ده چې په لاندې توګه واضح کیږي:

**لمړی، د اسمرې د تړون لړۍ:** دا تړون د ۲۰۱۸ د جولای په ۹ لاسلیک شو چې وروسته اتیوپیا او اریتریا د دې دواړو هېوادونو ترمنځ د جګړې د پای ټکی اعلان کړ او دا اعلان وروسته له هغې لیدنې وشو چې د اتیوپیا لمړی وزیر آبی احمد او د اریتریا ولسمشر اسیاس افورقي تر منځ د تاریخي لیدنې په نامه یادیږي. د اریتریا د رسنیو وزیر یماني جبر میسکیل په خپل تویتر کې

ولیکل: «د دواړو خواوو تر منځ د سولې او دوستۍ دوه اړخیز تړون لاسلیک شوی او د دواړه هېوادونو تر منځ جګړه پای ته رسېدلې، د دوستۍ او سولې نوی عصر رامنځته شوی او دا دواړه هېوادونه به یوځای هڅه وکړي چې په خپلو منځو کې فرهنګي، ټولنیز، اقتصادي، سیاسي او امنیتي مرستې ولري.» (سرچینه: فرانس پرس د ۲۰۱۸م د جولای ۹) د دې تړون د پردې تر شا د لا زیات وضاحت لپاره باید له دې تړون مخکې او وروسته پېښنو ته اشاره وشي.

## 1 . هغه څه چې له دې تړون مخکې پېښ شول:

د افریقا په چارو کې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مرستیال دونالد یاموتو، پنچشنبې د ۲۰۱۸م د اپریل په ۲یمه «آدیس آبابا» ته یو رسمي سفر وکړ، په دې ۳ ورځني سفر کې یې د اتیوپیا له لمړي وزیر آبي احمد علي او د هغه هېواد د بهرنیو چارو له وزیر سره لیدنې وکړې. دا لیدنې د هغه سفر په اړانه کې تر سره شوې چې د اپریل په ۲۲مه یې پیل کړې وې چې پکې اریتریا او جیبوټي شامل وو او په اتیوپیا کې پای ته ورسېدې. (سرچینه : فرانس پرس د ۲۰۱۸ د جولای ۹مه)

آبی احمد د ۲۰۱۸م د مې پر ۱۷ په لمړني بهرني سفر کې د شاه سلمان بن عبدالعزیز په رسمي بلنې له سعودي لیدنه وکړه.

د سعودي ولیعهد بن سلمان لمړی کس و چې آبي احمد د ۲۰۱۸م د جون په ۷مه ورسره لیدنه وکړه. د اتیوپې آژانس د دې هېواد د لمړي وزیر آبي احمد له رئیس دفتر څخه په نقل داسې لیکلي وو: «آبي احمد له سعودي سره د اړیکو پراختیا ته هرکلی ویلی او ویلي یې دي چې د محمد بن سلمان په مرستې سره د دې دواړو هېوادونو اړیکې زیاتې شوي او له بل هره وخته پیاوړې او نږدې شوې هم دي او د سعودي ولیعهد ژمنه کړې چې په اتیوپیا کې د سعودي د پانګه اچونې د تشویق او زیاتوالي لپاره د آدیس آبابا له مرستو څخه به ملاتړ وکړي.»

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د ۲۰۱۸م د جون په ۲۱مه په یوه وینا کې ویلي: «امریکا متحده ایالت د اتیوپیا او اریتریا تر منځ د اوږدمهاله اختلافونو حل لارې ته د رسېدو وروستې پرمختګونه ښه بولي او اسیاس افورقي او آبی احمد د سولې په لور د ګامونو په اخیستلو سره یوه زړوره رهبري وښوده. متحده ایالتونه هیله لري چې د دې دواړو هېوادونو تر منځ اړیکې په بشپړه توګه عادي شي او دا دواړه هېوادونه خپلو ګډو هیلو ته ورسیږي چې تلپاتې سوله ولري.» (سرچینه: رویترز۲۰۱۸م جون ۲۱)

مایک راینور په اتیوپیا کې د امریکا سفیر له آدیس استاندارد سره په یوه مرکه کې وویل: «ډېر ښه، موږ دواړه خواوو ته په علني توګه ویلي او بیا هم وایو چې موږ دې رول لوبولو ته چمتو یو، د الجزایر د تړون په ورځ متحده ایالت رسمي ضامن و، موږ تړون ته په رسېدو کې ښکاره رول درلود، هغه هم په هغه وخت کې چې هېڅ یو د دې دواړه هېوادونو (اریتریا او اتیوپیا ) سولې ته هېڅ تمایل نه درلود، موږ هغوی سولې ته وهڅول او په همدې دلیل مو وویل: که داسې احساس کوی چې د همکارۍ په توګه متحده ایالت کولای شي ښه رول ولوبوي، موږ له هغې څخه په ملاتړ هغه څه مو چې په وس کې وي تر سره به یې کړو... څرنګه مې چې وویل: زه په دې اند یم چې موږ دې پایلې ته د رسېدو لپاره، ډېر اړین رول لوبولی، ځکه چې له څو میاشتو راهیسې له دې دواړو هېوادونو سره په تماس کې وو.» (سرچینه: www.addisstandard.com ۲۰۱۸م جولای ۲)

دا ټول یاد شوي مطالب دا په ډاګه کوي چې د دې تړون د لاسلیک کولو پیل د امریکا او مزدورانو لکه سعودي لخوا شوی او له دې تړون څخه د پخوانیو پېښنو په تعقیب سره کېدای شي یادې پایلې ته ورسېږو.

### 2 . هغه څه چې وروسته له دې ترون څخه پېښ شول:

امریکا د اریتریا او اتیوپیا تر منځ وروسته له کلونو جګړې څخه د سولې له ترون څخه خپل ملاتړ اعلان کړ. دغه اعلان د سه شنبې په ورځ د امریکا د بهرنیو چارو وزیر (مایک پامپئو) په وینا کې راغلی وو، هغه وویل: «امریکا متحده ایالات د اریتریا او اتیوپیا تر منځ د سولې له ترون څخه ملاتړ کوي، چې پرون د دوشنبې په ورځ لاسلیک شو او ۲۰ کلنې جګړې ته یې د پای ټکی کېښود. هغه په دې ټینګار وکړ، چې د اړیکو عادي کول او د اریتریا او اتیوپیا تر منځ د سولې د ګډ اعتماد اعلان د دواړو هېوادونو خلکو ته د ټولنیزو، اقتصادي او سیاسي اړیکو په ډول ګډو هیلو باندې د تمرکز زمینه برابروي.» (سرچینه: www.ar.haberler.com ۲۰۱۸م د جولای ۱۰)

اسیاس افورقي د ۲۰۱۸م جولای په ۲۳ د اسمرې له ترون وروسته چې د ۲۰۱۸م جولای پر ۹مه لاسلیک شو، له سعودي لیدنه وکړه. هغه او ملک سلمان د وروستیو سیمه ییزو پېښو په اړوند خبرې اترې وکړې، همداسې (عادل جبیر) له خپل اریتریائي سیال سره په یوه ناسته کې د دواړو هېوادونو دوه اړخیزو اړیکو او اړینو موضوعاتو په هکله خبرې وکړې. (سرچینه: الشرق الاوسط ۲۰۱۸م جولای ۲۴)

د اسمرې له ترون دوه میاشتې وروسته، د اریتریا ولسمشر اسیاس افورقي او د اتیوپیا لمړي وزیر آبی احمد علی، یکشنبه د ۲۰۱۸م د سپتمبر پر ۱٦مه د سعودي د شاه، ملک سلمان په ملاتړ، د دوو هېوادونو تر منځ د سولې ترون لاسلیک کړ چې د سعودي ولیعهد هم پکې ناست وو. (سرچینه: عربي اسکای نیوز ۲۰۱۸م سپتامبر ۱٦).

د پاسنیو پېښو له لړۍ څخه په ډاګه کیږي چې امریکا او مزدوران یې د اسمرې د ترون د فضا په رامنځته کولو سره او له ترون وروسته ښکاره ملاتړ سره، د دې پېښو تحریک کوونکي دي.

**دویم، د اریتریا او اتوپیا د حکومتونو واقعیت:**

1 . **حبشه د انګلیس او ایتالیا په ښکېلاک کې:** حبشه په ۱۹۵۳م، د ایتالیا تر ښکېلاک لاندې راغله او د هغې امپراطور (هایله سلاسي مریم ) د کینیا له لارې مصر ته ولاړه چې په هغه وخت کې دا دواړه هېوادونه د انګلیس په ښکېلاک کې وو او په هغه ځای کې تم شوه تر هغې چې په ۱۹۴۱م کې په دویمې نړیواله جګړې کې د متفقیونو لخوا د ایتالیا تر ایستلو وروسته، انګلیس بیا ځل هیله سلاسي د امپراطورۍ پر کرسي کښېنوله او له هغې وروسته حبشه د انګلیس تر ښکېلاک لاندې راغله او په ۱۹۵۰م کال کې اریتریا له اتیوپیا سره یو ځای شوه او د هایله سلاسي تر حکومت لاندې راغله. په اریتریا او اتیوپیا کې د انګلیس نفوذ تر ۱۹۷۴م پورې دوام ووموم. خو د راستګرا نظامیانو لخوا د امپراطورۍ پر وړاندې نظامي کودتا وشوه، چې په هغه کې افسر منګیتسو او هیله مریم ډېر د خلکو په منځ کې مشهور وو، چې دې نظامیانو له جګړې وروسته له ۱۹۷۷م تر ۱۹۹۱ پورې په قدرت کې وو. په هغه وخت کې ډېریو انقلابي حرکتونو انقلابي شعارونه، آزادي، کمونیستي او داسې نور شعارونه ورکول او د (مریام) دخلکو شعارونه هم همدا وو، که څه هم امریکا د انګلیس استعماري نفوذ د له منځه وړلو لپاره د دې تر شا وو. د امریکا لپاره د مریام په خارجي سیاست کې له خدمتونو څخه یو یې د (جان ګارانګ) په مشرۍ د سوډان د جنوب (ترهګر سازمان) څخه ملاتړ وو چې له امریکا سره یې تړاو درلود او له نوموړي سازمان څخه د اتیوپیا ملاتړ هم مداوم پاته شو څو چې په سودان کې د (بشیر) له حکومت سره په یووالي، جنوبي برخه له سودان څخه بېله شوه.

منگیتسو په خون خوارۍ مشهور وو او امریکا اندېښمنه شوه چې داسې نه چې خلک انقلاب وکړي او انگلیس د دویم ځل لپاره راشي، د منگیتسو حکومت یې نسکور کړ او ملس زناوي چې د (خپلواکۍ جبهه) یادېده او د مسیحي تغرای قبیله وه، حکومت ته راوسته چې دا قبیله د اتیوپیا د نفوس ۵٪ ده او له نورو قومي جبهو سره یې تړون لاسلیک کړ د بېلگې په توگه له اورومو خپلواکۍ جبهې سره. له مهمو کارونو چې (زناوې) د امریکا په گټه تر سره کړل دا وو چې په ۲۰۰٦م کې یې په سومالیا کې لاسوهنه وکړه او امریکا دې ته اړ کړه چې له اسلامي حرکتونو سره وجنگیږي او د سومالیا له محاکمو څخه د اسلامي احکامو د لغو کولو سبب وگرځي چې لا تر اوسه د اتیوپیا اردو په سومالیا کې د امریکا د نفوذ د استحکام لپاره کار کوي.

په ۲۰۱۲م کې د زناوې له مړینې وروسته له همدې قبیلې څخه د (هیله مریم دسالین) په نامه یو کس واک ته ورسېد، خو گډوډي رامنځته شوه او په وروسته کال کې یې اضطراري حالت اعلان شو او د ۲۰۱۵م په اکتوبر کې د پلازمېنې (آدیس آبابا) د پراختیا او د کرنیزو ځمکو د مصادرې په هکله د حکومت د هوډ په پایله کې گډوډي رامنځته شوه. دا ځمکې د (اورومو) قبیلې اړوند وې چې د دې هېواد ۴۰ سلنه خلک دي او وروسته له دې قبیلې تر ټولو لویه قبیله (امهریه) ده چې د دې هېواد ۲۰ سلنه نفوس جوړوي. حکومت له یوه کاله وروسته په ۲۰۱٦م کې اضطراري حالت اعلان کړ او د څو میاشتو لاریونو په لړ کې یې ۲۹ زره کسان ونیول او له ۵۰۰ زیات کسان یې ووژل، ځکه چې هیله مریم دسالین ونه توانېده چې وضعیت کنټرول کړي، امریکا په افریقا کې د بې ثباتۍ په اړه اندېښمنه شوه او هغې ته یې دستور ورکړ چې گوښه شي.

په دې ډول دسالین د ۲۰۱۸م د فبرورۍ په ۱۵ استعفا ورکړه. امریکا د اتیوپیا حاکم تر ټولو لویو او سرکښې قبیلې (اورومو) څخه چې ډېر یې مسلمانان دي یو کس د (آبی احمد) په نامه وټاکه. هغه کس چې مور یې له مسیحي قبیلې (امهریه) څخه وه او د هغه ښځه هم له همدې قبیلې وه په دې ډول امریکا دوې لویې قبیلې په خپله گټه سره یوځای کړې.

آبی احمد په اردو، استخباراتو او په سیاست کې تجربه لري، هغه د ۲۰۱۸م د اپریل ۲مه لمړی وزیر شو. د ۲۰۱۸م د جون پر ۲۳مه د ترور له ناکامې نقشې سره مخ شو چې د اتیوپیا په پلازمېنه آدیس آبابا کې د ناستې په ترځ کې د لسگونو زرو پر وړاندې وشوه. هغه له انفجار وروسته وویل: «دا ناکامه هڅه د هغو ځواکونو لخوا تر سره شوې چې نه غواړي اتیوپیا په یووالي کې وگوري.» همداسې په آدیس آبابا کې د امریکا سفارت دا برید محکوم کړ او ویې ویل: «په اتیوپیا کې به تاوتریخوالی ځای ونلري.» (سرچینه: الحره شبکه ۲۰۱۸م جون ۲۳)

له دې امله داسې نه معلومېږي چې پورتني بریدونه، په نظامي او امنیتي بدلونونو پورې اړه ولري چې په ۲۰۱۸م د جون ۸مه د استخباراتو د عمومي رئیس او مسلح ځواکونو د قوماندان د گوښه کېدو لامل وگرځېد. دا دواړه ارگانونه د ۲۰۱۵م د سلگونو اعتراض کوونکو او زرگونو د بندي کولو په تور تورن دي.

په دې ډول امریکا د اتیوپیا حکومت کړی په خپل لاس کې ونیولې، په ځانگړې توگه وروسته له هغې چې آبي احمد حکومت په لاس کې ونیو، ځکه هغه کس د امریکا د هر ډول دستور تگلاره په ښه توگه تر سره کړه، چې په سیمه کې د چین د اقتصادي پرمختگ او د اروپا د هر ډول سیاسي پرمختگ پر وړاندې د امریکا د مزدورانو تر منځ د جنجالونو د له منځه وړلو لپاره وو.

### 2 . د اریتریا د حکومت په هکله:

ځرنګه چې مخکې مو يادونه وکړه، د هايله مريم دسالين پر وړاندې د نظاميانو له انقلاب او په اتيوپيا او اريتريا کې د اانګليس له نفوذ وروسته، منګيتسو مريام حاکم شو او ډېرې وينې يې وبهولې، امريکا د خلکو له انقلابه اندېښمنه شوه او د انګليس د بيا نفوذ په اړه يې اندېښنه پيدا کړه، که څه هم په دې هکله برلاسې هم وه. ځکه نو منګيتسو يې له صحنې وايست او په ۱۹۹۱م کې (زناوي) حاکم شو. په همدې وخت کې په اريتريا کې د خپلواکۍ د غوښتلو لپاره تحرکات په لاره واچول شوو. امريکا د خلکو غوښتنو ته ځواب ويل، د خلکو د آرامولو لپاره ګټه ور وګڼل او په ۱۹۹۳م کې يې د اريتريا خپلواکي اعلان کړه او افورقي يې حاکم کړ، ليکن د خپلواکۍ په دې اعلان کې د دې هېواد نوي سرحدونه ونه ټاکل شول. افورقي له دې اندېښمن شو چې اريتريا له اتيوپيا سره بياځل يو ځای نشي او په ۱۹۹۸م د مې پر ۱۲مه يې د امريکا له اختلاف سره سره چې هغه يې د حاکم په توګه ټاکلی هم و، د هېواد سرحدونه وټاکل او هغه خبرې اترې چې د (سوزان رايس) لخوا په ۱۹۹۸م د مې پر ۳۰مه وړانديز شوې وې هم ګټورې نه وې. نږدې وو چې په دې کار کې بريالی هم شي، خو امريکا د هغه  دا کار سرغړونه وګڼله او ويې غوښتل چې هغه ذليل کړي، له همدې امله يې (زناوي) ته دستور ورکړ چې پر اريتريا باندې د ۱۹۹۹م د فبروري پر ۴مه وحشيانه جګړې پيل کړي. دا جګړې د ۲۰۰۰م کال د مې پر ۱۲مه زياتې هم شوې څو چې ټول ټاکل شوي سرحدونه له منځه يوسي او ځان د اريتريا زړه ته ورسوي.افورقي د ۲۰۰۰م د جون پر ۱۸مه د الجزاير تړون او ټولو شرطونو سره هوکړه وکړه. خو له دې سره بيا هم د سرحدونو موضوع حل نشوه.

موږ په هماغه وخت کې د ۲۰۰۰م د جون پر ۲۲ مه سياسي تبصره درلوده او په هغې کې مو ويلي وو: «د ۲۰۰۰م کال د جون  پر ۱۸ د يکشنبې په ورځ د اريتريا او اتيوپيا د بهرنيو چارو وزيرانو د دواړو هېوادونو د اوربند تړون لاسليک کړ او دا کار په الجزاير کې د هغه هېواد د ولسمشر په شتون کې تر سره شو، چې اوس د افريقا د يووالي د سازمان دوره‌يي رييس دی. په هغې کې د ملګرو ملتونو، د اروپا د اتحاديې او د امريکا استازو هم ګډون درلود. دا تړون ۱۵ فقرې لري چې مهمې يې دا دي: د ملګرو ملتونو د نړيوالو کارپوهانو په واسطه د دواړو هېوادونو ګډو سرحدونو ټاکل، بادمي او نورو سرحدي سيمو ته د نړيوالو ځواکونو له شتون دوه اونۍ وروسته د اتيوپيا د ځواکونو د استولو ځنډول، همداسې اريتريا بايد د حائل سيمه چې د نړيوالو ځواکونو تر ولکې لاندې ده او ۲۵ کيلو متره له اتيوپي سره سرحد لري تخليه کړي. (کلينتون) د دې تړون په لاسليک يوه وينا درلوده او ويې ويل: «دا لوی پرمختګ دی چې د هغې په لاسته راوړلو سره د افريقا د کړکېچن حالت پای ته ورسيږي.» هغې دا هم وويل: «اتيوپيا او اريتريا د امريکا ملګري دي، که حاضر وي چې وروسته ګامونه کېږدي، موږ او ملګرو ملتونو کې زموږ نور ملګري به له هغوی سره يو ځای وو.»

د ملګرو ملتونو استازي آنتوني ليک په دې هکله وويل: «دا يوه مهمه شېبه ده چې دوه کلنې جګړې ته يې د پای ټکی کېښود» که څه هم دې تړون د سرحد د کرښو د ايستلو په هکله وضاحت درلود، خو بيا هم په عملي توګه سرحدونه و نه ټاکل شول، اتيوپيا ځان د دې کرښو د ايستلو مسئول ونه ګڼلو او اريتريا د خپلې خاورې يوه برخه وګڼله. د حبشې امپراطوران او ورپسې منګيتسو مريام هڅه کوله چې په بېلابېلو تګلارو اريتريا د خپلې خاورې برخه کړي او د دې لپاره د اريتريا د سيندونو تش ځايونو ته اړتيا وه له همدې امله، ځرنګه مو چې مخکې وويل، افورقي هڅه وکړه چې سرحدونه له نظامي لارې وټاکي او که د امريکا په ملاتړ د ۲۰۰۰م د مې پر ۱۲ مه د اتيوپي حمله نه وی هغه په دې کار بريالی کېدو. افورقي مجبور شو چې د اتيوپيا غوښتنې ومني او هغه تړون اعلان کړي چې په ۲۰۰۰م د جون پر ۱۸مه په الجزاير کې د (افريقا د يووالي تر چتر) لاندې لاسليک شو او همداسې مو په يوه سياسي تبصره کې ويلي وو: «اتيوپي او ارتيريا هغه دوه هېوادونه دي چې په سياست کې د امريکا تابع دي او حکام يې د امريکا مزدوران دي، دا امريکا وه چې ويې غوښتل خپل مزدور منګيتسو مريام په ۱۹۹۱م کې بدل کړي، د ملس زناوي لپاره يې امکانات برابر کړل چې د (ملي تحرير جبهې) مشرتابه ته يې ورسوي او وروسته په اديس ابابا کې ځواک هغې ته تسليم کړي او

همداسې دا امریکا وه چې اسیاس افورقي د (اریتریا ملي خپلواکې جبهې) مشرتابه ته او له اتیوپیا څخه خپلواکۍ ته ورسوي. د اتیوپیا او اریتریا تر منځ اختلاف، د دوو مزدورانو تر منځ اختلاف او په بله وینا د کلینټون او د لوېدیځ او سپینې ماڼۍ د نورو سیاسي کارپوهانو تر منځ اختلاف، او دوو ملګرو تر منځ اختلاف دی.»

امریکا د خبرو اترو له لارې د دې دوو هېوادونو د اختلافونو د له منځه وړلو لپاره، د خپلو کارپوهانو له لارې ډېرې هلې ځلې وکړې. له دې کارپوهانو څخه یو یې انتوني لیک و، چې له یو کاله زیات په دې ماموریت بوخت وو، بیا هم دا اختلافونه حل نه شول، ځکه چې افورقي د امریکا له وړاندیزونو سره موافق نه وو او فکر یې کاوه چې په هغې کې د اتیوپیا ګټې نغښتې دي. افورقي د امریکا د اوامرو تابع نشو نو هغه یې یوازې تادیب بلکې هغه یې په نظامي ځواک ذلیل هم کړ او دا د امریکا تګلاره ده چې هر مزدور یې له اوامرو سرغړونه وکړي د هغه سرنوشت به همدا وي.

دا امریکا وه چې پر اریتریا د زناوي له وروستي برید یې دفاع وکړه او په ملګرو ملتونو کې د هغې استازي (هولبرک) دې برید ته شین چراغ ښکاره کړ او د ۱۹۹۸م د مې پر ۱۰مه د چهارشنبې، په ورځ د اسمرې له پرېښودلو د مخه د اریتریا له ولمسشر سره له ناستې وروسته داسې وویل: «موږ په ډېره چټکتیا سره یوې نوې جګړې او د مړینې یوه نوي پړاو ته نږدې کېږو او که دا پېښې شي د افریقا په وچه کې به دا تر ټولو لویه جګړه وي.» دا هغه ویناوې وې چې هولبرک د اسمرې له پرېښودلو د مخه د ټولو اورېدونکو د ګوانښولو لپاره کړې وې. هولبرک هغه شوم بوم دی چې د نړۍ له هېوادونو لیدنه کوي او د امریکا د ګټو د خوندیتوب په موخه او د ملتونو د وینې بهولو، د جګړو په لاره اچولو، د بدبختیو د رامنځته کولو لپاره، د خپلو پخوانیو بېلګو لکه (کسینجر) له تګلارو څخه کار اخلي.

له هغه څه چې وویل شول دا په ډاګه کېږي چې د اریتریا لخوا د امریکا د وړاندیزونو نه منل، له امریکا سرغړونه نه ده بلکې په دې معنا ده چې له امریکا غواړي چې له یاد هېواد سره د هغه هېواد او اتیوپیا د ګډو سرحدي کرښو په ایستلو کې مرسته وکړي او دا ستونزه د تل لپاره حل شي، همداسې اریتریا د (نیمه خپلواکۍ ) په حال کې پاته نشي. همداسې واضح کېږي چې افورقي او ابی احمد دواړه د امریکا مزدوران دي او د هغوی لپاره به اسانه نه وي چې له بنودي سره د اسمرې تړون د امریکا له پلان، فرمان او خبرتیا پرته په خپلو منځونو کې لاسلیک کړي.

**دریېیم، د الجزایر تړون چې په ۲۰۰۰م کې لاسلیک شو او د اسمرې تړون چې په ۲۰۱۸م کې لاسلیک شو، چې کابو 18 کاله واټن لري؛ د امریکا په ګټو پورې تړاو لري:**

د الجزایر له تړون وروسته چې د امریکا په ملاتړ تر سره شو او په هغې کې ستونزمنه مسله د سرحدونو په ډاګه کول وو، اتیوپیا غوښتل چې دا مسله وروسته پرېښودل شي، خو اریتریا غوښتل چې دا ستونزه ډېر ژر حل شي. له دې ټولو سره سره امریکا کولای شوای چې په دواړو خواوو په فشار راوړلو سره دا ستونزه حل کړي، خو دا کار یې ونکړ، ځکه په هغه وخت کې یې ګټې د دې مسلې په حل او نه حل کېدو سره خوندي وې، ځکه په هغه وخت کې دواړه د امریکا مزدوران وو او تر منځ یې شخړو د امریکا پر ګټو اغېز نه کاوه، خو په وروستیو کلونو کې بدولونو، امریکا دې ته اړ کړه چې په افریقایي سیاست کې په ځانګړې توګه د افریقا ښاخ په هکله بیا کتنه وکړي. او هغه هم په دې توګه:

1 - په اتیوپیا کې د بېلابېلو حکومتونو رامنځته کول، حکومت یې ضعیف کړ، ثبات یې له منځه یووړ او هغه یې د نفوذ وړ کړ، او د انگلیس له سیاسي نفوذ او د چین له اقتصادي نفوذ څخه خوندي نه وو له دې امله امریکا یې اړ کړه چې په دې هکله بیاکتنه وکړي او دا کار یې وکړ.

رپورټونه وایي چې په اتیوپیا کې بېلابېلې زېرمې شتون لري او په ډېرو سیمو کې یې استخراج کیږي. (سرچینه: اتیوپیا نت د ۲۰۱۳م د اپریل ۱) همداراز تمه کېږي، چې د دې هېواد د نفت تولید ۴۰ میلیارد گېلن شي او په ۲۰۱۸ کال کې به بازار ته راووځي. (سرچینه: موگادیشو سنتر د ۲۰۱٦م د دسمبر ۲۵)

په دې ترتیب سره نفت هغه نوی عامل دی چې د امریکا پاملرنه یې د افریقا ښاخ ته اړولې ده، په ځانگړې توگه دا چې چینایي کمپنۍ د نفت په استخراج کې ډېر بر لاسې دي او د اتیوپیا د نفت په استخراج کې اقتصادي مخکښ دی. په افریقا او په ځانگړې توگه په اتیوپیا کې د چین پیاوړې اقتصادي جگړه د امریکا له سترگو پټه نه ده. د اتیوپیا د بازار د لوی حجم له امله چین په ډېر شدت سره پانگه اچونه کوي.

چین په افریقا کې په پانگه اچونه ټینگار کوي، په ځانگړې توگه اتیوپیا کې چې په وروستیو کلونو کې د چین په اقتصادي سیمه بدله شوې او له بلې خوا تیوپیایي چارواکي د بهرنیو هېوادونو لپاره د پانگه اچونې د اسانتیاوو لپاره هلې ځلې کوي او ټینگار کوي چې لمړۍ او وروستۍ گټې یې د چین په شتون کې خوندي دي. (سرچینه: فرنس ۲۴، د ۲۰۱۸م، د جون ۵) له همدې امله پر اتیوپیا باندې د امریکا لخوا د فشار راوړلو دلیل د چین د اقتصادي نفوذ د کمولو لپاره دی.

2 - په دې وروستیو کې په افریقا ښاخ کې د انگلیس د نفوذ د زیاتېدو لپاره دېرې هلې ځلې پیل شوي دي، څرنگه چې د امارات (د انگلیس مزدور) او اتیوپیا تر منځ اړیکې ښې شوي په داسې حال کې چې اړیکې یې زیاتې نه وې. له دې امله امارات خپل سفارت په ادیس ابابا کې په ۲۰۱۰م کې پرانیست. وروسته له هغې د دې دواړو هېوادونو تر منځ اړیکو پراختیا موندله او د دې دواړو هېوادونو تر منځ په بېلابېلو برخو کې تړونونه لاسلیک شول، لکه د گمرکي مرستو او د تخنیکي مرستو تړون، په ۲۰۱۳م په ادیس ابابا کې د دبۍ د صنایعو او سوداگرۍ د اتاق د نمایندگۍ د دفتر پرانیستل، په ۲۰۱۴م کې د ښاري هوانوردۍ، عالي زده کړو، په ۲۰۱۵م کې د ځوانانو او ورزش، د امارات-اتیوپې د بهرنیو چارو وزیرانو په کچه گډه کمیټه جوړول او هغه رسمي لیدنې چې د اتیوپیا مخکینۍ ولسمشرې هایله مریم دسالین چې له متحدو عربي اماراتو سره وکړې، د نږدې اړیکو په مانا دي. د دې دواړو هېوادونو تر منځ اړیکې په ټولو برخو کې د یوه بدلون شاهدې وې او دا د هغو خبرو اترو پایله وه چې دسالین په امارتو کې له سیاسي مشرانو سره درلودې. په هغې رسمي لیدنه کې چې دسالین له ابوظبی څخه درلوده، د دولت د اړیکو د چارو د دفتر پخوانې رییس (گیتاتشو) وویل: «دسالین له ابوظبی څخه په لیدنه کې پر گډو موضوعاتو باندې بحث وکړ چې د دواړو هېوادونو لپاره اړینې وې او د گډو گټو لپاره به په اقتصادي، پانگه اچونه او نړیوالو او سیمه ییزو برخو کې کارول کیږي.» همداراز د نړیوالو مرستو په چارو کې د اماراتو د دولت وزیر، ریم هاشمي په ادیس ابابا کې وویل: «اتیوپیا په افریقا کې د اماراتو د هېواد ستراتیژیک ملگری دی او دواړه هېوادونه گډې گټې لري.» (سرچینه: عین الاخباریه، ۲۰۱۸م د مارچ ۷)

انگلیس د اماراتو له لارې هڅه کوي چې اتیوپیا په خپلو سیاستونو وڅرخوي په دې هیله چې دا هېواد او اریتریا تر خپلې اغېزې لاندې راولي. له همدې امله د اتیوپیا او اماراتو تر منځ ډېرې کتنې کیږي.

(شیخ محمد بن زاید آل نهیان) د اتیوپیا له لمړي وزیر ابي احمد سره په ادیس ابابا کې د جون په ۱۵ رسمي ناسته درلوده. په دې ناسته کې د دواړو هېوادونو تر منځ پر ښو اړیکو او استراتیژیکو ګډو مرستو خبرې اترې وشوې. د جولای په ۳ مه د سې شنبې په ورځ د ابوظبي ولیعهد، د اریتریا له ولسمشر اسیاسي افورقي څخه استقبال وکړ او هیله من وو چې دا ناسته به په راتلونکې کې د دواړو هېوادونو تر منځ د ښو اړیکو لامل وګرځي او د دواړو ملتونو او هېوادونو لپاره د خیر سبب وګرځي.
(سرچینه: [www.alkhaleej.ae](http://www.alkhaleej.ae) ۲۰۱۸م د جولای ۲۲مه)

دې بدلونونو امریکا دې ته اړ کړې چې په افریقا په ځانګړې توګه د افریقا پر ښاخ باندې ډېره پاملرنه وکړي او په هغې کې فعاله وي.له همدې امله د ۲۰۱۷م په سپتمبر کې (دونالد یوکیو یاماموتو) یې د افریقا په چارو کې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د معاون په توګه وټاکه او دا چارواکی به په افریقا کې د امریکا د سیاست د پلي کولو لپاره ډېر اغېزمن وي.

دا ټاکنه په یوه موخه تر سره شوې، ځکه چې هغه کس په افریقا کې په ځانګړې توګه د افریقا په ښاخ کې له باتجربه څېرو څخه دی چې په یادو سیمو کې د هغه هېواد ډیپلوماټیک استازی دی. هغه د اسمرې په تړون او د دې دواړو هېوادونو تر منځ د ښو اړیکو په رامنځته کولو کې او د شخړو په له منځه وړلو کې ډېر فعال رول لوبولی. په دې ترتیب سره، د اسمرې تړون د الجزایر تړون په تایید او پر هغې د ټینګار او د اریتریا او اتیوپیا تر منځ د شخړو د له منځه وړلو لپاره لاسلیک شو. نه یوازې دا بلکې په سیمه کې د امریکا د مزدورانو تر منځ څرنګه چې تمه ده چې د اتیوپیا او مصر تر منځ په نیل رود کې د (النهضه) اوبو پر سر شخړه پیل شي، ځکه آبی احمد له مصر څخه لیدنه وکړه او د ۲۰۱۸م کال د اکتوبر پر ۱۰مه یعنې د اسمرې له تړون یوه ورځ وروسته له سیسي سره ناسته درلوده او له هغه سره یې د یو او بل د ګټو د نقض نه کولو او دواړو خواوو د پرمختګ او دواړو هېوادونو تر منځ متقابلو حقوقو ته احترام پر بنسټ د ګډو لیدنو تړون لاسلیک کړ. نو واضح خبره ده چې دا ټول د امریکا په موافقې تر سره شوي.
همداسې له سودان سره یوځای، امریکا په اپریل میاشت کې د چین او انګلیس د پرمختګونو پر وړاندې د دریو هېوادونو تر منځ د لیدلورو د نږدې کولو په موخه خپل ډیپلوماتیک او تخنیکي هیئت استولی و.

په پای کې باید وویل شي چې ډېره د خواشینۍ خبره ده چې استعمارګر کفري هېوادونه چې په راس کې یې امریکا ده، د سیمې په هېوادونو حکومت وکړي. شاید ځینې ونه پوهېږي چې په اتیوپیا او اریتریا کې کابو نیم نفوس یې یا د ځینو شمېرو له مخې، د نفوس تر نیم یې زیات مسلمانان دي، یعنې تر پنځوس میلیونو زیات او همداسې شاید ځینې ونه پوهېږي چې د لمړنیو مسلمانانو کډې چې له مکې حبشې ته هجرت وکړ، د اریتریا په نامتو بندر کې تم شوه پر دې سربېره دا دواړه ځمکې د مسلمانانو د پاملرنې پر ځای، د امریکا، اروپا او چین د پاملرنې پر ځای بدلې شوي. په هر حال دا عجیبه نه ده، هغه مهال چې مسلمانان دولت و نه لري چې د هغوی په چارو پاملرنه وکړي، حال یې هغه یتیم ته ورته دی چې د یوه خسیس کس په دسترخوان ناست وي نو له خلافت پرته د مسلمانانو حال بدلېدونکی نه دی، چې مسلمانان د الله سبحانه و تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم په سنت راټول کړي.

**﴿وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ بِنَصْرِ اللَّهِ يَنْصُرُ مَنْ يَشَاءُ وَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ﴾**

[روم: ۴- ۵]

***ترجمه:*** *په هغې ورځ مومنان خوشحاله کیږي (هو خوشحاله کیږي) د الله (سبحانه و تعالی) له مرستې څخه، هر چا ته چې وغواړي مرسته کوي، او هغه عزیز او رحیم دی.*